دافغانستان اسلامي جمهوريت

دعدليې وزارت

# رسمي جريده

فوق العاده ګڼه

- د انرژۍ د تړون معاهده او اړوند سندونه د انرژۍ د نړیوالې همکارۍ له پاره یو قانوني چوکاټ
- د ۱۳۸۸/۴/۱۵ هـ.ش نېټې په(۹۸٦) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي د ټولیزو رسنیو په قانون کې تعدیل او ایزاد

- معاهدهٔ پیمان انرژی و اسناد مربوطه یک چارچوب قانونی برای همکاری بین المللی انرژی
- تعدیل و ایزاد در قانون رسانه های همگانی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره(۹۸٦) مؤرخ ۱۳۸۸/۴/۱۵ هـ.ش

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۳ هـ.ش کال د کب دمیاشتې (۲۰)
پرله پسې نمبر:(۱۱٦۷)

تاریخ نشر: (۲۰) حوت سال ۱۳۹۳ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱٦۷)

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

- Treaty on Energy and Documents relevant to a legal framework for Energy international cooperation
- Amendment and addition to mass media Law Published on Official Gazette Issue No:(986) Dated 15/4/1388 Solaryear

**Date:11th March .2015**
**ISSUE NO :(1167)**

د ټوليزو رسنيو په قانون کې د تعديل او ايزاد په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس

فرمان

ګڼه: (٦۷)

نېټه: ۱۱/ ۱۲/ ۱۳۹۳

لومړۍ ماده:

دافغانستان د اساسي قانون د شلورشپېتمې مادې د(۱٦)فقرې دحکم له مخې، د ټوليزو رسنيو د قانون د دوه څلوېښتمې او درې څلوېښتمې مادې تعديل او د څلور څلوېښتمې مادې ايزاد چې دملي شورې د ولسي جرګې د۸/ ۱۱/ ۱۳۹۳ نېټې (۱۵۰) ګڼې د ټولو غړيو د دوو للثو رأيو د مصوبې پربنسټ تصويب شوي، توشيح کوم.

دوه يمه ماده:

دغه فرمان له يادشوي تعديل او ايزاد او د ملي شورې دولسي جرګې له مصوبې سره يو ځاى دې په رسمي جريده کې خپور شي.

محمد اشرف"غني"

دافغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

فرمان

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

در مورد تعديل و ايزاد درقانون رسانه های همگانی

شماره:(٦۷)

تاريخ:۱۳۹۳/۱۲/۱۱

مادۀ اول:

بـه تأسـی از حکـم فقـرۀ (۱٦) مـادۀ شصت وچهارم قانون اساسی افغانستان، تعديل مادۀ چهل ودوم و چهل وسوم و ايزاد مادۀ چهل وچهارم قانون رسانه های همگانی را کـه بـه اسـاس مصـوبۀ شـماره (۱۵۰) مـؤرخ ۱۳۹۳/۱۱/۸ به دو ثلث آرای کل اعضـای ولسی جرگه شورای ملی به تصويب رسـيده توشيح می دارم.

مادۀ دوم:

ايـن فرمـان همـراه بـا تعـديل و ايـزاد مذکور و مصوبۀ ولسی جرگه شورای ملی در جريدۀ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف "غنی"

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان اسلامي جمهوريت

ملي شوري

ولسي جرګه

د تولیزو رسنیو په قانون کې د تعدیل او ایزاد په هکله

مصوبه

پرله پسې ګڼه: (۱۵۰)

د تصویب نېټه: ۸/ ۱۱/ ۱۳۹۳

د افغانستان د اساسي قانون د نوي یمې مادې د حکم له مخې، ولسي جرګې د خپلې عمومي غونډې د ۸/ ۱۱/ ۱۳۹۳نېټې په ترڅ کې، د تولیزو رسنیو د دوه څلویښتمې او درې څلویښتمې مادو تعدیل او د څلورڅلویښتمې مادې ایزاد چې د څلور څلویښتمې مادې د (۱) فقرې د لومړي جزء په اړه د مجلسینو د ګډ هیئت د نه موافقې په پایله کې صورت موندلی وو، د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې د حکم پربنسټ، خپله مخکنۍ مصوبه یې د تولو غړیو د دوو ثلثو په رأیو سره تصویب کړه.

عرفان الله عرفان

د ولسي جرګې د منشي نایب

جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبه

در مورد تعدیل و ایزاد در قانون رسانه های همگانی

شمارهٔ مسلسل: (۱۵۰)

تاریخ تصویب: ۱۳۹۳/۱۱/۸

به تأسی ازحکم مادهٔ نودم قانون اساسی افغانستان، ولسی جرگه طی جلسهٔ عمومی مؤرخ ۱۳۹۳/۱۱/۸خویش، تعدیل مواد چهل ودوم و چهل وسوم و ایزاد مادهٔ چهل وچهارم قانون رسانه های همگانی را که در نتیجهٔ عدم موافقهٔ هیئت مختلط مجلسین در موردجزءیک فقرهٔ (۱)مادهٔ چهل وچهارمصورت گرفته بود، مصوبهٔ قبلی خویش را به تأسی از حکم مادهٔ صدم قانون اساسی افغانستان مجدداً به دو ثلث آرای کل اعضاء به تصویب رسانید.

عرفان الله عرفان

نایب منشی ولسی جرگه

## د ۱۵/ ۴/ ۱۳۸۸ هـ.ش نېټې په (۹۸٦) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي د ټولیزو رسنیو په قانون کې تعدیل او ایزاد

لومړۍ ماده:

د ټولیزو رسنیو د قانون دوه څلوېښتمه او دري څلوېښتمه مادې، دې پــه لانــدې متونو تعدیل شي:

د ټولیزو رسنیو کمېسیون

دوه څلوېښتمه ماده:

(۱) دټولیزو رسنیو د فعالیت د لا بــه تنظیم په موخه د اوو تنو مسلکي، لــوړو زده کړو د ژورنــالیزم ســند لرونکــو اودقومي اوجنسیتي جوړښــت لــه پــه پام کې نیولو ســره د ټــولیزو رســنیو کمېسیون جوړېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې مندرج د کمېسیون څلور تنه غړي د دریو کلنو او درې تنه نوریې ددې قانون د یوڅلوېښتمې مادې د(۴) فقرې د۲ جزء په پام کــې نیولوسره د دوو کلنو لپاره غوره کېږي.

(۳) ددې مادې پــه (۱) فقــره کــې د

## تعدیل و ایزاد درقانون رسانه های همگانی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره(۹۸٦) مؤرخ ۱۳۸۸/۴/۱۵هـ.ش

مادهٔ اول:

مواد چهل ودوم و چهل وسوم قــانون رسانه های همگانی به متون ذیل تعدیل گردد:

کمیسیون رسانه های همگانی

مادهٔ چهل ودوم:

(۱) به منظورتنظیم بهتر فعالیت رســانه های همگانی،کمیسیون رســانه هــای همگانی به ترکیب هفت عضو ازمیــان شخصیت‌های مسلکی، دارای تحصیلات عالی در رشتهٔ ژورنالیزم و بالنظرداشــت ترکیب قومی وجنسیتی ایجاد می گردد.

(۲) چهارنفر از اعضــای کمیســیون مندرج فقرهٔ(۱) این ماده برای مدت سه سال وسه نفر دیگر آن بــرای مــدت دوسال با رعایت جزء ۲ فقرهٔ (۴) مادهٔ چهل ویکم این قانون انتخاب می گردد.

(۳) اعضای کمیسیون مندرج فقرهٔ(۱)

کمېسیون درج شوي غړي پرله پسې له دوو ځلو زیات نشي ټاکل کېداي.

(۴) ددې مادې په (۱) فقره کې د کمېسیون مندرج غړي د حق الحضور مستحق وي چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا وړاندیز او د ولسمشر له خوا منظورېږي.

(۵) ددې مادې په (۴) فقره کې مندرج حق الحضور د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له بودجې څخه ورکول کېږي.

(۶) د کمېسیون د کار او فعالیت ډول ځانګړې کړنلارې په واسطه تنظیمېږي.

## د ټولیزو رسنیو د کمېسیون دندې او واکونه

دري څلوېښتمه ماده:

د ټولیزو رسنیو کمېسیون د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د چاپي رسنیو او ددغه قانون په اوو ویشتمه ماده کې د درج شوو مؤسسو غوښتونکو د غوښتنلیکونو څېړنه او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته دهغو د منظوري، ثبت او دجواز د ورکولو وړاندیز.

این ماده، بیشتر ازدو بار پی درپی انتخاب شده نمی تواند .

(۴) اعضای کمیسیون مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مستحق حق الحضور می باشند که ازطرف وزارت اطلاعات وفرهنگ پیشنهاد و از جانب رئیس جمهور منظور می شود.

(۵ ) حق الحضور مندرج فقرهٔ (۴) این ماده از بودجه وزارت اطلاعات وفرهنگ پرداخته می شود.

(۶) طرزکار وفعالیت کمیسیون توسط طرز العمل جداگانه تنظیم می گردد.

## وظایف و صلاحیت های کمیسیون رسانه های همگانی

مادهٔ چهل وسوم:

کمیسیون رسانه های همگانی دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد:

۱- بررسی درخواستی متقاضیان رسانه های چاپی ومؤسسات مندرج مادهٔ بیست وهفتم این قانون و پیشنهاد، ثبت واعطای جواز آنها جهت منظوری به وزارت اطلاعات و فرهنگ.

۲- د بريښنايي رسنيو د غوښتونكو د غوښتنليكونوڅېړنه د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت ته دهغو دمنظورۍ وړانديز د مخابراتو او معلوماتي تكنالوژۍ وزارت په موافقې د فريكونسۍ له ټاكلو څخه وروسته.

۳- د ټـولیزو رسنيو د فعاليتونو ارزونه.

۴- د اړوندو تقنيني اسنادو مطابق د ورځپاڼه ليكونكو، خبريالانو او د رسنيو د نورو كاركوونكو د حقوقو د رعايت او امتيازونو څارنه.

۵- له اړوندې كړنلارې سره سم د رسنيود مالي سرچينو په روڼتيا باندې څارنه.

۶- د رسنيو عالي شورې ته د كمېسيون د درې مياشتني رپوټ وركول.

۷- د ملي راډيو تلويزيون ادارې پر خپرنيزو، اداري او مالي چارو باندې څارنه.

۸- د ملي راډيو تلويزيون د ادارې د بودجې تدقيق او د ټولیزو رسنيو عالي شورې ته د هغې وړاندې كول.

۲- بررسی درخواستی متقاضیان رسانه های برقی و پیشنهاد منظوری آنها بـه وزارت اطلاعـات وفرهنـگ بعداز تعیین فریکونسی بـه موافقـهٔ وزارت مخابرات وتکنالوژی معلوماتی.

۳- ارزیابی فعالیت های رسانه های همگانی.

۴- نظارت از رعایت حقوق وامتیازات روزنامه نگاران، خبرنگاران و سایرکارکنان رسانه ها طبق اسناد تقنینی مربوط.

۵- نظارت برشفافیت منابع مالی رسانه ها طبق طرزالعمل مربوط.

۶- ارایهٔ گزارش سه ماهه از اجراآت کمیسیون به شورای عالی رسانه ها.

۷- نظارت برامور مالی، اداری و نشرانی رادیوتلویزیون ملی.

۸- تدقیق بودجهٔ ادارهٔ رادیوتلویزیون ملی وتقدیم آن بـه شورای عالی رسانه ها.

دوه يمه ماده:

لاندې متن دې د ټولیزو رسنیو د قانون د (څلورڅلویښتمې) مادې په توګه ایزاد او له (څلورڅلویښتمې څخه تر څلور پنځوسمې) مادې پورې دې په ترتیب سره په ( پنځه څلویښتمې څخه تر پنځه پنځوسمې) مادو باندې تصحیح شي.

د رسنيو د سرغړونو او شكايتونو د څېړنې كمېسيون

څلورڅلویښتمه ماده:

(۱) د رسنیو سرغړونو او شکایتونو ته د رسېدګۍ او په دې برخه کې د تصمیم نیولو په منظور، د رسنیو د سرغړولو د څېړنې کمېسیون، په لاندې ترکیب رامنځته کېږي:

۱- د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر د رئیس په توګه.

۲- دافغانستان د بشري حقوقو د خپلواک کمېسیون واکمن استازی د رسنیو د عالي شورې په تأیید د غړي په توګه.

۳- د جنسیت په پام کې نیولو سره د مدني ټولنې دوه تنه ټاکل شوي او واکمن

مادۀ دوم:

متن ذیل بحیث مادۀ (چهل وچهارم ) قانون رسانه های همگانی ایزاد ومواد( چهل وچهارم الی پنجاه وچهارم) بالترتیب به مواد (چهل و پنجم الی پنجاه وپنجم) تصحیح گردد.

کمیسیون بررسی شکایات و تخلفات رسانه ها

مادۀ چهل وچهارم:

(۱) به منظور رسیدگی به شکایات وتخلفات رسانه یی واتخاذ تصمیم در زمینه، کمیسیون بررسی تخلفات رسانه یی به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- وزیر اطلاعات وفرهنگ بحیث رئیس.

۲- نمایندۀ با صلاحیت کمیسیون مستقل حقوق بشرافغانستان به تائید شورای عالی رسانه ها به حیث عضو.

۳- دو نفرنمایندۀ منتخب و با صلاحیت جامعه مدنی بانظرداشت

استازي د رسنيو د عالي شوري په تأييد سره د غړو په توګه.

۴- د جنسيت په پام کې نيولو سره د ژورناليستانو د اتحاديې دوه تنه تاکل شوي او واکمن استازي درسنيودعالي شوري په تأييد د غړو په توګه.

۵- يو تن له تجربه لرونکو حقوق پوهانو څخه د رسنيو د عالي شوري په تأييد د غړي په توګه.

۶- د افغانستان د سينما ګرانو د اتحاديې واکمن استازی د رسنيو د عالي شوري په تأييد د غړي په توګه.

۷- د کابل پوهنتون د ژورناليزم د پوهنځی رئيس د غړي په توګه.

۸- يو تن جيد عالم، د علماوو د شوري غړی د غړي په توګه.

(۲) کمېسيون ددې مادې په (۱) فقره کې مندرج شکايتونه او سرغړوني ارزوي، سرغړوونکي ته د احوالو سره سم توصيه او اخطار ورکوي او يا يې د عدلي تعقيب په موخه اړوندو مراجعو ته معرفي کوي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي کمېسيون غړي د حق الحضور

جنسيت به تائيد شوراى عالى رسانه ها به حيث اعضاء.

۴- دونفرنمايندۀ منتخب و با صلاحيت اتحاديه هاى ژورناليستان بانظرداشت جنسيت به تائيد شوراى عالى رسانه ها به حيث اعضاء.

۵- يک نفر از حقوق دانان با تجربه به تائيد شوراى عالى رسانه ها به حيث عضو.

۶- نمايندۀ با صلاحيت اتحاديۀ سينما گران افغانستان به تائيد شوراى عالى رسانه ها به حيث عضو.

۷- رئيس پوهنځی ژورناليزم پوهنتون کابل به حيث عضو.

۸- يک تن عالم جيد دينی عضو شوراى علماء به حيث عضو.

(۲) کميسيون مندرج فقرۀ (۱) اين ماده شکايات وتخلفات را مورد رسيدگی قرار داده، متخلف را حسب احوال توصيه، اخطار يا جهت تعقيب عدلی به مراجع مربوط معرفی می نمايد.

(۳) اعضاى کميسيون مندرج فقرۀ (۱) اين ماده مستحق حق الحضور می باشند

مستحق دي چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا وړانديز او د ولسمشر له خوا منظوريږي.

(۴) ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوي حق الحضور د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له بودجې څخه ورکول کيږي.

(۵) د کمېسيون د کار او فعاليت ډول د ځانګړي کړنلارې په واسطه تنظيميږي.

درېيمه ماده:

دغه تعديل او ايزاد په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذيږي.

که از طرف وزارت اطلاعات وفرهنگ پيشنهاد واز جانب رئيس جمهور منظور می گردد .

(۴) حق الحضور مندرج فقرۀ(۳) این ماده ازبودجۀ وزارت اطلاعات وفرهنگ پرداخته می شود.

(۵) طرزکار وفعاليت کميسيون توسط طرز العمل جداگانه تنظيم می گردد .

مادۀ سوم:

اين تعديل وايزاد ازتاريخ نشر درجريدۀ رسمی نافذ می گردد.